مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۲/۰۶/۰۳

ستونزه په چا کې ده؟

موږ تر لوستلو وړاندې لیکل زده کوو.

"لوست" تر دې وړاندې چې پیل کړو، پای ته یې رسوو. خو "لیک" مو پای نه پېژني.

یوه ښاغلي لیکلي وو:

نه پوهېږم خلک ولې (الف) د نړۍ په لویو لیکوالو کې شمیري؟ "مـــــــــــــا" ته خو یې لیکنې هېڅ خوند نه راکوي...
بل ښاغلي ورلاندې لیکلي وو:

هسې چټې شی دی، "مـــــــــــــا" هېڅ لوستی نه دی.

درېیم ښاغلي لیکلي:

دا نو د څه شي لوی لیکوال شو، چې "مـــــــــــــا" یې لا نوم اورېدلی نه دی؟ خلک وایي "ب" ښه لیکوال دی، خو زه یې نه پېژنم او لوستی مې نه دی.

دا کیسه په زړه پورې ده.

نړیوال ادبیات او ادبي مکتبونه د یوه اوږدمهالي تاریخي، ذوقي، ابستېتیکي، ټولنیز ، فیلوسوفیک - اروایي تکامل په پایله کې رامنځته کیږي او پر هغو د پوهېدو او ورڅخه خوند اخیستو لپاره ښایي د هنري - ادبي تکامل دغه تجربې وپېژنو او د ادبي اثر تر څنګ یوڅه په اروا پوهنه، نړیوالو فکري - فیلوسوفیکو بهیرونو، تاریخ، ټولنپوهنې، اسطورو، نړیوالو بلاغي ارزښتونو او د هنري - ادبي مکتبونو د رامنځته کېدو په لاملونو پوه شو.

که "مـــــــــــــا" له یوه هنري - ادبي اثره خوند نه اخیست یا نه پرې پوهېدم یا یې "مـــــــــــــا" لا نوم اورېدلی نه دی، ښایي پوه شم، چې ستونزه په "مـــــــــــــا" کې ده.

یوه بل ښاغلي لیکلي وو، لیکنې لنډې لنډې لیکه، د دې زماني خلک د لوستلو حوصله و وخت نه لري.

ما په "نوې زمانه" کې نړۍ وکتله، خو له افغانستان پرته مې بل ځای د نوې زماني داسې خلک ونه موندل، چې لوستلو ته وخت و حوصله ونه لري. لا اپوټه، بل هېڅه ته وخت نه لري، خو لوست خامخا کوي.

د نړۍ هر پرمختګ سره زموږ چلند همداسې دی.

د نړۍ ټول ارزښتونه، بري او بریاوې تر هغو بدې او توري دي، چې موږ نه پرې پوهېږو.
له دغې "مـــــــــــــا" څخه هغه وخت لږ لږ راوتلای شو، چې لوست وکړو.
لوست به مو د نورو منځ ته بوځي، لوست به مو له خپلې ذهني څاه څخه بهر، پراخې نړۍ سره اشنا کړي او په اسمان کې راختلی لمر به راووینې.
چې یوځل له پاسه یا د نورو له منځه خپلې "مـــــــــــــا" ته راوګورو ایله به وپوهېږو، چې چېرته یو؟
او که له هیڅه خوند نه اخلو نو ښایي په "مـــــــــــــا" کې بدلون راولو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ